سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۰۲/۱۲

# بدلون

لکیـرې دی بادونه پروا نشته تیر به شی
رژیـرې دی ګلـونه پروا نشته تیر به شی

ماهیان دی په اوبو کی څوک ارام ته نه پریدی
خوریـرې دی جالـونه پـروا نشته تیر به شی

د ورکی تمنا د پـاره شـوی ډیری لـوبـې
ماتیـرې دی روغ زړونه پروا نشته تیر به شی

جانانه په سپین مخ دی د ګردو شیبی دی لنډی
وریـرې دی قـهـرونه پروا نشــته تیر به شی

حالات راته نظر کی نن راغلی دی ښه نور
لــدیرې تـنـابونه پروا نشـــته تیـر به شی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

غونچې به را بهـر شی راروان دی پسرلی

غوریـږی اسمانـونه پـروا نشته تیر به شی

شی بیا به "کلیواله"! په نفرت مینه بر لاسی

تیریـږی دا وخـتونه پـروا نشته تیر به شی

تورنتو ـ کاناډا – ۲۰۱۸/۶/۲۲

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښونده تر لاسه کړی!

بـدلـول

kliwal_s_baalawol.pdf